مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی آرین

۲۰۲۰/۰۳/۰۴

# عُشر

## لنډه کیسه

دا کال چې توپکوالو زموږ د سیمې په کلي او باندو کې حکومت کاوه. مګرد دغې سیمې باتورو او په وطن مینو خلکو چې د وطن د ازادی ملا یې تړلې وې او ځیني وختونه به یې د روسي یرغلګرو پر مرچلو لکه د زمرو شانته بریدونه کول.

د جګړو په دغه اړو دوړکې او د ډېرو بارانونو او سېلابونو له وجې زموږ کرکیله او کروندی ستونزمنې او زیانمنې شوې وې. د شولو د نیالولو وخت هم یو څه تېرشو، خو بیا هم کلیوال کاکا جوره ته سترګې په لار وو، خوهغه رانغی.

د کلیوالو د انتظار وجه دا وه، چې سږکال جوره بای یو څه پیسې د مخه اخیستې وې، نو څکه باید هرومرو راغلی وای. موږ هم د پخوا په شان دغه کار بل چا ته نه شو ورکولی، څکه چې ژبه مو کړې وه. لنډه دا چې کښتونه نیمګړي او څه لا ونه شول.

څه کم دوې میاشتې لا نه وې تېرې شوې چې د جوره بای د ډلي یو تن چې امېربیک نومېده، کلي کې راښکاره شو. هغه د شپې لپاره د خدای بښلي باغوان باشي صاحب حجرې ته ولاړ. د ماښام د لمانځه نه وروسته کلیوال ټول هماغلته ترې راټاو شول. له یو څه ګپ شپ او خبرو وروسته آزادخان کاکا غږ کړ:

«راځئ چې اصلي خبرې ته راشو، امېربیکه ولې داسې وشول؟»

امېربیک چې خورا وېرې پسې اخیستې و، خپلې خبرې یې داسې پیل کړې:

«چې راتلم ومې لیدل چې ستاسو ډېرې ځمکې زموږ د نه راتګ له امله شاړې پاتې شوې دي. موږ وبښئ.هېله کوم، زموږ ګناه نه ده.

پر ظالمانو واوښتو. هلته سرېتوب، انساني عواطف، مسلماني او افغانیت لکه چې په پردو پلورل شوي او پرځای یې وحشت، لوټماري، وژني او اخلاقي فساد جال غوړولی و.

زه څکه راغلم چې هغه دیین ادا کړم، کوم چې مې د جوره بای د ژوند په ورستیو شپېو کې هغه سره هوډ کړی و» موږ ټول هسې سره هک پک شولو، چې څه پېښ شوي دي؟

ولې د کاکا جوره بای د ژوند وروستی شپېې؟

له هرې خوا نه پرې غږ شو: ژر ووایه څه پیښ شوي دي؟.

هغه د خپلو خبرو لړی داسې وغځوله:

«موږ د نورو کلونو په شان د وخت سره سم راغلو. د تالقانو او بنګي پله تر منځ مو شپه په یوه سموار کې شوه. نیمه شپه پر سری خوړونکو او وحشت واوښتو. وسلوال ځناور راغلل، عُشر، ذکات یې غوښت؛ مګر موږ خو لا د لارې کرایه هم پوره نه درلوده. ذکات او عُشر خو لاپرېږده. ویې لټولو، هیڅ یې ونه مېندل. ډېر یې ووهلو. هیڅ یې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

نه اوریدل او یا دا چې په خبرو نه پوهیدل کنه خو افغانان او د همدې سیمې وو. بیا یې لکه پسونه مخې ته کړو، څو ګړۍ مو مزل وواهه، تر څو چې یې د خپل ځایي قوماندان قرارګاه ته ورسولو.

لعنت دې په داسې ظالم قوماندان او قرارګاه وي، چې ټوله شپه مو په دښته وچه ځمکه تېره کړه او سهار یې په وړې نس د قوماندان مخې ته وړاندی کړو.

قوماندان چې غټه پوزه، ببرې ورو‌ځې، ژېړ اوږده غاښونه او څو تاره اوږده ږیره یې لکه وزه ځړیده. دومره مردار او خېرن ښکاریده تا به ویل چې کلونه یې د اوبو مخ نه دی لیدلی. د چرسو چلم یې مخې ته ولاړ دواړو خواوو ته یې ښکلي هلکان ناست وو. پام یې زموږ خوا ته شو موږ هر یو ته یې ښه په ځیر ځیر کته او پورته وکتل. په خندا شو له ځانه سره لکه اوښ وغړمبید او داسې یې وویل:

«خو عُشر نه دادین، مېتین آخرمېتین»

بیا یې د ښي لاس خوا هلک ته غږ کړ:

«او بچه! امو که دېروز پیسه نه داشت، عُشر و ذکات داد نه یاد نه داشت بیاریش»

«خو صایب میارمش»

څو شیبې وروسته یې یو ځوان راوست چې مخ او جامې یې په وینو لړلې، د مخې غا ښونه یې یو که دوه مات وو. قوماندن ورته وکتل او بیا موږ ته په خندا شو. جګ یې وخندل له خولې نه یې ځګونه لکه اوښ باد شول.او بیا یې وویل:

«او بې پدر! پیسه داري یا نې، عشر داد نه فامیدی یا نه فامیدي؟»

بیا یې موږ ته وویل:

«شما هم یاد بیګیرین، که عُشر و ذکات چوتو داده میشه. مه قوماندان کېنجه استم از ذات چنګېز مي سوزانمی تان ای بی پدرا!»

جوره بای کاکا ور وړاندی شو:

«صایب موږ خو خپله خواران یو د یوې مړې ډوډۍ د پیدا کولو د پاره دې خوا راغلي یو. تر اوسه مو لا کار هم نه دی موندلی، له څه به عُشر ورکړو؟»
قوماندان ناڅاپه له ځایه راپورته شو او لکه ځناور یې ځان وخوځاوه. په خندا شو بیا یې له خولې ځګونه باد شول غږ یې کړ:

«اجل بچیم! کولی شان کدوس، ګپه نه پامېد امو پلانه سرشان املی کو»

اجل قوماندان د مخه موږ ورپسې د یوې ځمکې خوا ته یې ودرولو او راته یې وویل:
«امې ګندومه درو کونین کارتان د عُشر و ذکات ایساب مېشه»

دوه وسلوال یې پر موږ ودرول چاره نه وه نه مو چا غږ اورېد او نه چا څه ویلی شول. دغه کار مو پیل او په بېړه مو خلاص کړ، چې ژر د تاسو خوا ته راشو. مګر سبا اجل قوماندان را ورسید د بلې ځمکې د شولو نیال ته یې و درولو. سر مو څه در په درد کړم، دا یوه نیمه میاشت یې د هغې سېمې ټول نیالونه او لوونه پر موږ وکړل او پیسې یې دوی اخیستې.

دوې ورځې د مخه یې بېرته راوستو او د کېنجه قوماندان مخې ته یې ودرولو. هغه چلم واهه څو دوده چلم یې کش کړ دودونه یې باد کړل بیا یې موږ ته پام شو او غږ یې کړ:

«اینه خانه اباد بچه کلان حق خوده د جهاد از همه خوب اجرا کدین. کسی پول مېته، کسی دانه وغله، کسی توپنګ می ګېره جهاد می کنه و کسی هم مثل شما کار خوده عُشر میته. مه خو خادم دېن استم و خدمتګار شما. اجل بچه بر اینا از طرپ مه یک، یک ازاری توفه بتی و از امو جای که اورده بودین اموجه پس ببرین. شا بس برین اله یار تان»

زموږ د ډلې مشر جوره بای کاکا و. نو ځکه ور د مخې شو او داسې یې ورته وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

«قومندان صاحب د خدای د پاره لږ ترحم خو په کار دی ته خو د اسلام خادم ځان ګڼې دا څنګه اسلام دی؟

زموږ ماشومان هلته د لوږې مري د لارۍ کرایه مو پورکړې، د کار او غریبۍ ټول وخت راباندې همدلته تېر شو. دا ۱۰۰۰ افغانۍ خو زموږ د بېرته تګ کرایه هم نه پوره کوي، ولی دومره ظلم؟ دا کوم اسلام دی؟ مه کوئ داسې یو څه عُشر ترې واخلئ، نورې خو یې زموږ د کار مزد دی، هغه راکړئ صایب. جهاد خو ته د روسانو پر ضد وکړه نه د موږ مظلومانو پرضد»

جوره بای نور هم غوښتل چې څه ووایې، خو کېنجه قومندان پرې غږ کړ:

«بی ادب چپ!»

هغه د کېڼ لاس هلک ته یې غږ کړ:

«زمبور بچیم امو چلمه بیار!»

«خو صایب میارم»

هلک چلم راوړ قوماندان صاحب خوله پرې کېښوده او لوخړې یې ورنه جګې کړې. غلی و څه یې نه ویل خو لږځنډ وروسته لکه لېونی اوښ له ځایه را پورته شو او وغوریده ډېر بد و رد یې وویل. د جوره بای خوا ته روان شو ترستوني یې کلک ونیو په لغتو او سوکانو یې خورا ډېر وواهه او داسې یې وویل:

«بی پدر! تو به مه جهاده یاد میتی»

موږ ټولو ته یې سپکې سپورې وویلې، خو جوره بای کاکا ترهغه ځایه چې موږ ته معلوم و هر څه یې زغمل ولې د عزت، پت او ناموس سپکې سپورې یې نه شوې منلې، نو ځکه یو دم هسې د خپل واکه ووت اول خو یې کېنجه قومندان ته همغه سپکې سپورې چې هغه ورته ویلې وې، په لوړ غږ بېرته ځواب ورکړ. او بیا یې پر ډبره سم پرمخ وویشت ورویې دانګل، غوښتل یې چې وسله ترې واخلي، مګرهغه خوارکي نور څه ونه شو کړای او کېنجه قوماندان په خپله تومانچه پر سر باندې وویشت. هو په خپله تومانچه. هغه چې یو صادق مسلمان او پنځه وخته لمونځ به یې کاوه او نور یې د ژوند کاروان د دی ظالمانود لاسه په داسې حال کې نیمګړې شو، چې له یوې خوا ستاسو د انتظار ارماني پاتې شو، او له بلې خوا هغو بچو ته ونه رسید، چې په خپله جونګړه کې یې د یوې مړی ډوډۍ لپاره د ده د ورتلو ارمان درلود

هغه خوارکي خپلې وروستی سلګی زما په غېږ کې ووهلې.خو تر ټولو وروستی خبره یې همدا وه، چې باید له تاسو نه ببښنه وغوښتل شي او هغه پیسې چې له تاسو مخکې اخستل شوې وې، هغه بېرته در وسپارل شي. نو ځکه زه راغلم تر څو د هغه غوښتنه چې زما فرض و ادا کړم. نور نو ستاسو خوښه.

دا حالت هلته ټولو کسانو په خپلو سترګو ولید ټولو رد، رد کتل، خو هیچا څه ویلای نه شول. ولی بیا هم کېنجه غړمبیده او ویل یې چې:

«ضد جهاد اس، ملحد اس مرګیش رواس بخا طری که عُشرنمی ته»

بیا یې موږته راغږ کړ:

«ده امو موتر شار برین، اګرباز ایسو امدین، عُشره بتین، چیزی کی ایجه دیدین، د همیجه بانین امیشه دانی تان بسته باشه»

رښتیا چې د کاکا جوره بای شانته په سلګونو او زرګونو بی ګناه انسانان په هېواد کې د حکومتي او یا په نوم جهادي ظالمانو د وحشت او ظلم په لومو کې داسې راګېرشوي، چې نور یې د خپلو خپلوانو او بچو نه د تل لپاره ترې تم شوي او بیا یې پته نه ده لګیدلې.

هو! موږ کلیوال هم خورا خواشیني شولو، د کاکا جوره بای روح ته مو دوعا وکړه، هغه پیسې چې مو د کار لپاره مخکې تر مخکې ورکړې وې، هغه مو ټولې ورووېشلې او یو څه نوره مرسته مو چې د وسه پوره وه، راټولې او د خدای بښلی کاکا جوره بای کورنی ته مو ولیږلې.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ